د افغانستان اسلامي امارت

د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت

مالي او اداري معينيت

د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست

د اطلاعات آمريت

دوه ويشتمه ګڼه (وږی) ۱۴۰۳ : شماره بيست و دو (سنبله) ۱۴۰۳ لومړی مخ - صفحه اول





اونیزه راستنېدنه
هفته نامه عودت


تاسو زموږ استاذان او د شرعي علم علماء ياستئ که زه په د غه ستر کار کي، خدای مه کړه له کوم انحراف او مشکل سره مخ کيږم، اصلاح او سموالي مي ستاسي مسؤليت دی ، تاسو به راته پر سمي لارې د تللو توصيه کوئ، کنه په ورځ د قيامت کي به زما د هر ډول انحراف مسؤليت ستاسيِ پر غاړه وي، او زه به يي له املة ستاسي ګريوان ته لاس دراچوم.
اميرألمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله

## د مهاجرينو چارو وزير د باميانو د مهاجرينو آمريت له کار کوونکو سره وليدل



د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزير الحاج خليل الرحمن حقاني او ورسره مل پلاوي د پلان او پاليسی رئيس مولوی محمود الحق د اطلاعاتو او عامه اړيکو رئيس مفتي عبدالمطلب حقاني د باميان ولايت د مهاجرينو چارو آمريت څخه ليدنه وکړه او د هغوی غوښتنې او وړانديزونه يي له نږدې واورېدل.

ښاغلي حقاني ددغه رياست له کارکوونکو سره د ناستې پرمهال په اخلاص، اطاعت، روڼتيا، د کاري بهير په چټکتيا، له وزارت او ولايتي اداري سره همغږي، د شريعت پابندي او نورو اړينو اصلاحاتو په رامنځته کولو ټينګار وکړ.

د باميانو د مهاجرينو آمر مولوي فضل عمر رحماني ښاغلي حقاني ته د آمريت د فعاليتونو په اړه معلومات وړاندې کړل او د چټکتيا او روڼتيا په اړه يي ډاډ څرګند کړ.

په پای کې د رياست کارکوونکو خپلې ستونزې او مشکلات شريک کړل، چې د حقاني صيب له لوري د حل ډاډ ورکړل شو.

## سرپرست وزارت امور مهاجرين با والی ولايت ميدان وردک ملاقات نمود

الحاج خليل الرحمن حقانی سرپرست وزارت امورمهاجرين وعودت کننده گان درسفرش به ولايت ميدان وردک با قاری بختيار معاذ والی آن ولايت ملاقات نمود.

در اين ملاقات در مورد وضعيت مهاجرين، بيجاشده ها، برگشت کننده ها و خانواد های آسيب پذير ناشی از سيلاب در آن ولايت بحث صورت گرفت.

آقای معاذ از کارکرد همه جانبه وزير امور مهاجرين قدر دانی نموده برهمکاری و ارايه کمک های بيشتر برای خانواده های برگشت کننده و بيجاشده در آن ولايت تاکيد نمود.

محترم حقانی بر ارايه کمک های بيشتر بشری برای خانواده های بيجاشده و برگشت کننده به والی ميدان وردک اطمينان داد.



## د مهاجرينو وزارت مسلکي معين د کندز ولايت مهاجرينو رييس سره وليدل

د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت

د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت مسلکي معين مولوي عبدالرحمن راشد کندز ولايت ته د خپل سفر په ترځ کې د دې ولايت د مهاجرينو له رييس مولوي عبدالوالي محمدي سره کتلي دي.

په دې ليدنه کې مسلکي معين د خپل سفر موخه، د شمالي او شمال ختيځو ولايتونو د مهاجرينو رياستونو ستونزو ته د رسېدنې په اړه معلومات شريک کړل.

ښاغلي راشد د بې ځايه شويو، بېرته راستنو شويو، اړمنو د پېژندنې او له هغوی سره پر مرستو کولو ټينګار وکړ.

بل لورته د کندز مهاجرينو رييس؛ مسلکي معين او ورسره مل پلاوي ته ښه راغلاست ووېل او زياته يې کړه، چې هڅه کوي څو مهاجرينو ته ښه او ګړندي خدمات وړاندې کړي.

نوموړي همدا راز د ياد رياست په کاري برخه کې ځينې ستونزې شريکې کړې، چې د ښاغلي راشد له لوري په دې برخه کې د حل ډاډ ورکړل شو.



## معين مسلکی وزارت امور مهاجرين، از بندر شير خان ولايت کندز ديدن بعمل آورد

مولوی عبدالرحمن راشد، معين مسلکی وزارت امور مهاجرين و عودت کننده‌گان، به ادامه سفرش به سمت شمال کشور، به ولايت کندز رفته و از بندر شيرخان ديدن نمود.

آقای راشد در اين سفر با بزرگان قومی ولسوالی امام صاحب کندز نيز ديدار داشته و روی موضوع مشکلات بيجاشده گان و برگشت کننده گان با آنان صحبت نمودند.

معين مسلکی وزارت با استماع مشکلات سران قومی آن ولسوالی بر حل آن در آينده اطمينان داد.





اوونیزه راستنیدنه
هفته نامه عـودت

## معین مسلکی وزارت امور مهاجرین، از بندر شیر خان ولایت کندز دیدن بعمل آورد مرحوم الحاج جلال الدین حقاني رحمه الله

### د وزارت مســــلکي مرستيال دکندز له مرستيال والي سره وکتل

د مهاجرينو او راستنيدونکو چارو وزارت مسلکي مرستيال مولوي عبدالرحمن راشد د کندز ولايت له مرستيال والي مولوي حبيب الرحمن صهيب سره وکتل.

په دې کتنه کې د بې ځايه شويو، راستنيدونکو پر ستونزو، په دغه ولايت کې د مهاجرينو د ښارګوټي او د دولتي ادارو ترمنځ د همغږۍ په اړه خبرې وشوې.

د کندز مرستيال والي وويل: موږ تل د خلکو په خدمت کې يو او هڅه کوو، چې راستنيدونکو مهاجرينو ته د موسسو له لارې د کار زمينه برابره کړو او د مهاجرينو ښارګوټي د ځمکو د ستونزې د حل په برخه کې به له وزارت سره همکاري وکړو.



### معین مسلکی وزارت امور مهاجرین: مسوولیت ما است تا با صداقت برای مهاجرین کار کنیم

نکات فوق را محترم الحاج مولوی عبدالرحمن راشد، معین مسلکی وزارت امورمهاجرین و عودت کننده گان در سفرش به ولایت سمنگان بیان داشت.

آقای راشد در ادامه سفرش به ولایات شمال کشور این بار به ولایت سمنگان رفته و با رییس مهاجرین آن ولایت دیدار داشت.

معین مسلکی وزارت اهداف سفر را با رییس مهاجرین شریک ساخته افزود: هدف ازآمدن به سمنگان بررسی و رسیده گی به مشکلات بوده و مسوولیت ما این است که برای مهاجرین با صداقت و راستی کار کنیم.

وی افزود: الحمد الله امنیت در سرتاسر کشور تامین است و مهاجرین طور داوطلبانه و جبری به کشور برگشت مینمایند و کوشش ما جلب مساعدت از نهاده های ملی و بین المللی و تجاران است.

قاری محمد حسین خالد خاکسار رییس مهاجرین سمنگان معین مسلکی و هیات همراه وی را خوش آمدید گفته افزود: ما کوشش می‌کنیم تا کمک ها را به مستحقین واقعی آن برسانیم.

وی گفت: در ولایت سمنگان ٦٠٠ فامیل در شهرک های مهاجرین بود وباش دارند که با مشکلات مواجه میباشند و خواهان توجه بیشتر وزارت در جلب کمک ها به این ولایت هستیم.

معین مسلکی وزارت مهاجرین مشکلات آنها را شنیده و بر حل آن وعده سپرد.



### د مهاجرينو وزارت مسلکي معين د سمنګان مرستيال والي سره وليدل

د مهاجرينو او راسنيدونکو چارو وزارت مسلکي معين مولوی عبدالرحمن راشد، سمنګان ولايت ته د خپل سفر په ترڅ کې د دې ولايت مرستيال والي ملا داد خدا خادم سره وليدل

په دې ليدنه کې چې د سمنګان والي د دفتر رييس قاري عبدالبصير فرقاني هم ګډون درلود، د مهاجرينو په بېرته راستنيدو، د خدماتو په وړاندې کولو، د مرستو په راجلبولو او همغږۍ خبرې وشوې.

مرستيال والي او د دفتر رييس د مرستو په راجلبولو کې مسلکي معين ته د همکارۍ ډاډ ورکړ.

همدارنګه ښاغلي راشد د چين هېواد له لوري مرسته شوي ۱۱۴ خېمې د ياد ولايت مهاجرينو رياست ته وسپارلې، څو په بېړنيو حالاتو کې تري کار واخيستل شي.

د يو بل خبر له مخې، د مهاجرينو او راستنيدونکو چارو وزارت مسلکي معين مولوي عبدالرحمن راشد په سمنګان ولايت کې د راستنو شويو لپاره د ۱۲۰ کورونو جوړولو پرانيسته وکړه.

ياد کورونه به دوه کوټې، يو دهليز او يو تشناب ولري، چې د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ په مالي ملاتړ او د اکرو موسسې له لوري د ۴۳ ميليون افغانۍ په لګښت سره جوړيږي.



### معین مسلکی وزارت امور مهاجرین، از شهرک مهاجرین ولایت سمنگان دیدن بعمل آورد

مولوی عبدالرحمن راشد، معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان درسفرش به ولایت سمنگان از شهرک مهاجرین در ولسوالی حضرت سلطان آن ولایت دیدن بعمل آورد.

آقای راشد در این بازدید مشکلات و نیازمندی های شهرک متذکره را از نزدیک بررسی نموده افزود: جهت رسیده گی بر حل مشکلات و امکانات اولیه در بخش آب شهرک مذکور موضوع را با آنان شریک خواهم ساخت.



### د مهاجرينو وزارت مسلکي معين د بلخ ولايت مهاجرينو له رييس سره وليدل

د مهاجرينو او راستنيدونکو چارو وزارت مسلکي معين بلخ ولايت ته د سفر په ترڅ کې د دې ولايت د مهاجرينو له رييس اسدالله وفا سره وليدل.

مسلکي معين بلخ ولايت ته د خپل سفر موخه څرګنده کړه.

ښاغلي راشد پر صداقت، رښتونوالي او د دندو په ښه توګه ترسره کولو او د نورو ولايتي ادارو سره د مهاجرينو رياست پر همغږۍ لازمي لارښووني وکړي.

د بلخ ولايت مهاجرينو رييس د وزارت له کړنو مننه وکړه او د لا ښو خدماتو د تر سره کولو ډاډ يې ورکړ.



### معین مسلکی وزارت امور مهاجرین از جریان کار یک باب مکتب در ولایت بلخ دیدن بعمل آورد

مولوی عبدالرحمن راشد معین مسلکی وزارت امورمهاجرین وعودت کننده گان، در جریان سفرش به ولایت بلخ از روند کار ساخت یک باب مکتب در آن ولایت بازدید بعمل آورد.

مکتب متذکره در محل نسیم مهدی شهر مزار شریف قرار داشته در دو طبقه که دارای ۱۲ صنف درسی و شعبات اداری میباشد که کار ساخت آن با حمایت مالی کمشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان توسط موسسه اکرو با هزینه ۲٤۰ هزار دالر امریکایی یک سال قبل آغاز و ۹۰ درصد تمام شده و قرار است که به زودی به بهره برداری سپرده شود.





راستنیدونه عـــودت
اونیزه
هفته نامه

# د وزارت مسلکي مرستیال دکندز له مرستیال والي سره وکتل

## کار ساخت ۱۲۵ باب سرپناه در ولایت بلخ آغازشد

کار ساخت ۱۲۵ باب سرپناه(شلتر) برای مهاجرین در ولایت بلخ، باحضور مولوی عبدالرحمن راشد معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان و مقامات محلی آن ولایت آغازشد.
سرپناه متذکره دارای ۲ اتاق، یک تشناب و یک دهلیز میباشد که با هزینه ٤٤ میلیون افغانی با حمایت مالی کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان توسط موسسه اکرو اعمار میگردد.
آقای راشد با قدردانی از کمیشنری ملل متحد گفت: برای تان اطمینان میدهم که رهبری امارت اسلامی و وزارت امور مهاجرین در راستای کمک و همکاری با شما از هرنوع همکاری دریغ نخواهند ورزید.
وی افزود: بسیاری از پروژه ها دیگر عام المنفعه را امارت اسلامی به زودی آغاز خواهد کرد و در اجرای چنین کار ها حمایت ملت نیز لازم میباشد.
طبق یک خبر دیگر، مولوی عبدالرحمن راشد معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان مساعدت کشور چین را که شامل ۲ عراده موتر مازدا، ۲ عراده امبولانس، ۱ عراده تانکر، ۱ عراده هایلکس و ۲۰۰ باب خیمه میباشد برای ریاست امور مهاجرین ولایت بلخ نیز تسلیم نمود.



## بلخ کې د قالینو اوبدلو او پروسس مرکز پرانیسته وشوه

د بلخ ولایت نهر شاهي ولسوالۍ د قالین بافانو ښارگوټي کې د مهاجرینو وزارت مسلکي معین مولوي عبدالرحمن راشد، د والي مرستیال او مهاجرینو رییس په شتون کې پرانیستل شو.
یاد مرکز چې د جوړېدو چارې یې په ۲۰۲۰ زیږدیز کال کې پیل شوې وې، د کډوالو په چارو کې د ملگرو ملتونو عالي کمېشنرۍ په مالي ملاتړ د اکرو موسسې له لوري د ۳۴۸ زره امریکایي ډالرو په لگښت جوړ شوی چې د پروسس او اوبدلو برخه لري، پکې ۱۰۰ تنو بې ځایه شویو ښځو او سیمې خلکو ته د کار زمینه برابره شوې ده.
د وزارت مسلکي معین په یاده پرانیسته کې وویل: د شکر ځای ده، چې د اسلامي امارت په راتگ سره د هر ډول پانگونې لپاره زمینه برابره شوې، په ټولو سوداگرو او پانگوالو غږ کوم چې هېواد کې پانگونه وکړي او د ویاړ ځای ده چې د اسلامي امارت په راتگ سره په سلگونو پروژو پرانیسته شوې ده.
د بلخ مرستیال والي مولوي نور الهادي ابو ادریس وویل: د خوښۍ ځای ده چې په دې ډول پروژو سره هېوادوالو ته د کار زمینه برابرېږي او اسلامي امارت تل له تاسو سره همکار ده.
د بلخ د مهاجرینو رییس اسدالله وفا وویل: د ویاړ ځای دی، چې د مزارشریف ښار کې دا ډول پروژو پرانیسته وشوه، چې ډېری ښځو ته پکې د کار زمینه برابره شوه.



## د وزارت مسلکي مرستیال د بلخ امنیې قوموندان سره ولیدل

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد د بلخ ولایت امنیه قوموندان ملا عبدالرازق سره ولیدل.
په دې لیدنه کې د وزارت مسلکي مرستیال د مهاجرینو غصب شوې ځمکې له امنیې قوموندان ملا عبدالرازق سره شریکې کړې او د بلخ د مهاجرینو له ریاست سره یې د همکارۍ غوښتنه وکړه.
د بلخ امنیه قوموندان د مهاجرینو چارو وزارت د مشرتابه د کړنو ستاینه وکړه او ویې ویل: د مهاجرینو د سوکاله ژوند لپاره څه مو چې په وس کې وي همکارۍ ته تیار یو.



## معین مسلکی وزارت امور مهاجرین، از ریاست مهاجرین ولایت جوزجان دیدن نمود

مولوی عبدالرحمن راشد، معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان در ادامه سفرش به ولایت جوزجان از ریاست مهاجرین آن ولایت دیدن بعمل آورد.
آقای راشد در نشستی با رییس و کارمندان آن ریاست اهداف سفر به آن ولایت را بررسی از امور و مشکلات در اجرای آن بیان نموده و بر کارمندان آن اداره بر صداقت در اجرای وظایف تاکید کرد.
ملا امان الله طلحه رییس مهاجرین ولایت جوزجان معین مسلکی و هیات همراه وی را خوش آمدید گفته از کارکرد مقامات رهبری وزارت قدردانی نموده افزود: همیشه در خدمت مردم خود قرار خواهیم داشت و مشکلات را در هماهنگی وزارت حل خواهیم نمود.



## تفاهم نامه همکاری در وزارت امور مهاجرین به امضا رسید

یک تفاهم نامه همکاری به ارزش ٥ صدو ۹٤ هزار و ۸۲۸ دالر امریکایی با موسسه داکار در وزارت امورمهاجرین وعودت کننده گان به امضا رسید.
به اساس تفاهم نامه یاد شده نهاد مذکور مبلغ فوق را در بخش توزیع، ترمیم شبکه ها، آزمایش، بسته های لوازم برای آب، ساخت و بازسازی ۱۷۰ باب مبرز، نصب استیشن های دست شویی و تهیه بسته مواد درسی در ولایات ننگرهار، لغمان و کنر به مصرف میرساند که ۱۰ هزار و ٤۸۰ تن از ان مستفید خواهد شد.
تفاهم نامه یاد شده توسط مولوی محمد جان خدر خیل سرپرست معینیت مسلکی و رییس دفتر مقام وزارت و نماینده موسسه یاد شده به امضا رسید.



## کندز کې یو روغتیایي مرکز گټې اخیستنې ته وسپارل شو

کندز کې یو روغتیایي مرکز گټې اخیستنې ته وسپارل شو
د کندز ولایت په دشت ارچي ولسوالۍ کې د یوه روغتیایي مرکز د رغونې چارې بشپړې او گټې اخیستنې ته وسپارل شو.
دا روغتیایي مرکز د دغه ولایت د استازي او ورسره مل پلاوي، د سیمې اوسېدونکو او د ملگرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ د استازي په شتون کې افتتاح او گټې اخیستنې ته وسپارل شو.
د یادونې وړ ده، چې د دغه مرکز د رغونې چارې د ملگرو ملتونو د کډوالو د عالي کمېشنرۍ په مالي مرسته د اکرو موسسې له لوري د ۱۳۵ زره امریکایي ډالرو په لگښت بشپړې شوې دي.



اوونیزه راستنیدنه عـــودت هفته نامه

شهادت هغه لوړ مقام دی چې الله تعالی یې په خپلو نېردي بندګانو پېرزو کوي، دا په ځانګړې ډول زما د خپل فامیل لپاره د الله تعالی له طرفه یو سعادت دی او د الله جل جلاله په نزد په دي ویاړم، چې د کورنۍ غړي مې الله تعالی په خپله لاره کې د شهیدانو او مجاهدینو په توګه قبول کړل.
مرحوم الحاج جلال الدین حقاني رحمه الله

## برای بیش از ۲۰۰ تن در ولایت پکتیا، زمینه آموزش های حرفوی فراهم شد

برای ۲۱۰ تن بیجاشده و برگشت کننده در ولایت پکتیا، زمینه آموزش های حرفوی با همکاری ریاست کار و امور اجتماعی آن ولایت فراهم شد.

درمحفلی که به همین مناسبت در آن ولایت برگزارشده بود روسای امور مهاجرین، کار و امور اجتماعی، امر بالمعروف و نهی از منکر و پوهنتون آن ولایت حضورداشتند در مورد کسب و کمال و کار در اسلام سخنرانی های از جانب اشتراک کننده گان ایراد شد.

شاملین در بخش های برق، ترمیم موبایل و خیاطی آموزش های فنی و حرفوی را برای مدت ٦ ماه فرا خواهند گرفت.




## میدان وردګو ولایت کې ۲۵ کورنیو ته د چورګوړو د تولید دستګاه ورکړل شوه

په میدان وردګو ولایت کې په ۲۵ بې وزله، بې سرپرسته، ناروغو او کونډو مېرمنو باندې د چرګوړو د تولید دستګاوې ووېشل شوې.

یادې کورنۍ د میدان وردګو ولایت د مهاجرینو امریت له لوري له وړاندې پېژندل شوې وې.

یادې مرستې د ۴۷ زره ۲۵۰ افغانیو په ارزښت یوه د چرګوړو د تولید دستګاه له ټولو وسایلو سره چې د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ له لوري د مهاجرینو اداري تر څارنې لاندې ووېشل شوې.

ډول پروژو سره هېوادوالو ته د کار زمینه برابرېږي او اسلامي امارت تل له تاسو سره همکار ده.

د بلخ د مهاجرینو رییس اسدالله وفا وویل: د ویاړ ځای دی، چې د مزارشریف ښار کې دا ډول پروژو پرانېسته وشوه، چې ډېری ښځو ته پکې د کار زمینه برابره شوه.



## صد ها خانواده که اخیراً در ولایت خوست بیجاشده اند مساعدت شد

به اساس گزارش ریاست امور مهاجرین ولایت خوست، ۳۰۰ خانواده از ولسوالی زازی میدان از اثر جنگ و درگیری میان نیروهای امارت اسلامی و نظامیان کشور پاکستان بیجاشده اند.

خانواده های متذکره از ولسوالی یاد شده به ولسوالی های صبری، باک و مرکز خوست بیجا ه و درخانه های اقارب ونزدیکان شان مسکن گزین شده اند که از جانب اداره مبارزه با حوادث طبیعی برای ۱۸۰ خانواده یک یک باب خیمه، آرد، روغن و برنج توزیع شده و از طرف اداره سره میاشت نیز کمک صورت گرفته است.

گفتنی است که بطورتخمینی ۹۰۰ خانواده دیگر نیز بطور احتیاطی بخاطر تشدید جنگ ازآن ولسوالی به ولسوالی های باک و صبری خانه های خود را ترک کرده اند.

شیخ محمد امان الهام رییس مهاجرین ولایت خوست به ولسوالی زازی میدان رفته و با عرض تسلیت به خانواده های شهدا، خانه های متضرر شده ناشی از این جنگ را نیز مشاهده کرد.

رییس مهاجرین ولایت خوست خواهان رسیده گی و کمک عاجل به خانواده های بیجاشده از نهاد های همکار ملی و بین المللی در آن ولایت شد.



## غزني کې د عامه پوهاي برنامه ترسره شوه

د غزني مهاجرینو ریاست له لوري د وستا موسسې په همکارۍ د ۱۲۰ تنو راستنو شویو لپاره د وږي میاشتې ۱۳ مې نېټې څخه تر ۱۸ مې نېټې پورې د مدني اسنادو په اړه عامه پوهاوی ورکړل شو.

دغه برنامه د غزني ولایت په قرباغ ولسوالۍ کې ترسره شوه، چې د حقوقي مسایلو او د تذکرې اخېستلو په ګټه او ګنو نورو مدني اسنادو په اړه معلومات ورکړل شول.



## سه باب باغچه خانګی ( ګرین هاوس) در شهر کابل به مالکان آن تسلیم داده شد

سه باب باغچه خانګی (ګرین هاوس) در شهر کابل به هدف ایجاد اشتغال زایی به مالکان آن تسلیم داده شد.

این باغچه های خانګی در قریه های حسین خیل و کخ میر ولسوالی سروبی کابل با حمایت مالی کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده ګان توسط موسسه اپو ساخته شده است که جهت خود کفایی برای خانواده های بیجاشده و برګشت کننده میباشد.



## د پکتیا د سرحدي آمریت د احاطې د بنسټ ډبره کېښودل شوه

د پکتیا ولایت د ډنډپټان ولسوالۍ په خرلڅي کې د سرحدي آمریت د احاطې د بنسټ ډبره کېښودل شوه.

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د څارنې او ارزونې رییس حاجي محمد علي باور او د ټېکنالوژۍ رییس مفتي مدیر ګل احمدي د چین هېواد د مرستو شویو وسایلو د سپارلو په موخه پکتیا ولایت ته لاړل او د دغه ولایت په ډنډپټان ولسوالۍ کې یې سرحدي امریت وکاته او د دغه آمریت د احاطې د بنسټ ډبره یې کېښوده.

دغه پلاوي هلته د سرحدي آمریت د غوره خدمتونو د وړاندې کولو پر لارو چارو خبرې وکړې.

دغه راز تللي پلاوي د مهاجرینو بېرنیو ناروغانو ته د خدمتونو لپاره د چین له لوري مرسته شوي یو امبولانس او یو پیکپ موټرونه مسولانو ته وسپارل.

د یادونې ده چې د پکتیا ولایت د سرحدي آمریت احاطه د مهاجرینو ستونزو ته د رسېدنې کمیسیون د لندمهاله استوګنې کمېټې په بودیجه جوړېږي.

